بسم الله الرحمن الرحیم

# د سپوږمی شپه

# د الـــی




:

حیات الله کهیځ www.samsoor.com د سپوږمۍ شپه

# د خپرندویې ټولنې یادښت

مومند خپرندویه ټولنه ویاړي، چې د ادبي کتابونو د چاپ په لړ کې دا ځل د کهیځ د شعرونو ټولګه (( د سپوږمۍ شپه )) تر تاسو درسوي، هیله ده چې تنده مو ماته کړي.

مومند خپرندویه ټولنې هوډ کړی چې خپلې ټولنې ته پوهنیز، ښوونیز، تاریخي او ادبي کتابونه وړاندې کړي.

مومند خپرندویه ټولنه

# د ګهيځ د هنر پلوشې

دا مهال د ننګرهار ادبي انځور يوه داسې سترګبرېښنه ښکلا وړاندې کوي چې هم سترګې خوږوي او هم زړونه، په دغه زړه خوږوونکې ښکلا کې زموږ د ځوان او خوږژبي ځېرمن شاعر ګهيځ ونډه هم د يادونې وړ ده.

ګهيځ په خپل همځولي بهير کې تر خپلو ډېرو همکچو او هماندو ( همفکرو ) بهيروالو که وړاندې نه دی، نو د شاتني او وروستني پرېکړه خو پرې هېڅوک هم نه شي کولای، ما چې د ګهيځ له لرېي خو خوږې شاعرۍ کوم خواږه څکلي، هغه داسې شمېرم:

غزليزه خوږلني:

دردہ ! په بل زړه کې به داسې ځای څوک کله درکړي
زما د خوږ زړه له پرهاره چې تا کډه وکړه

د کولتوري ارزښتونو د خونديېنې ارمان:

په جنګ کې خو چړې، تورې، ټوپکې سرې وژني
له جنګه په شاتښته کې پېغور دی خلک وژني

په خپله جنګځپلې ټولنه کې د سولې او سوکالۍ خوبونو ته د تعبير لټون:

دا تور ټوپک که مات او له بد رنګ ښکاري که خلاص شو
نو ترې، ترې زرکې به چينې ته خپله راشي
د سادګئ او خوږلنی یو خوندور اغږون:
هسې نه ګهيځه شپه درباندې راشي
د يارانو محفلونه دې خواږه دي
د کبر پر زوال اخې کول:
مونږه خواران خويې له ژونده خلاص کړو
ښه شوه چې دا هم له بلی ولوېده
د وتلي شاعر رحمت شاه سايل په څبر په ټپه يزه
تومنه د خپل هنر پی تومنه کول:
په دمه دمه څنبم اوبه چې ورانه چرته نه شي
ليکلې مې په زړه باندې جانانه ستا نامه ده
يالکه:
فکر وړی يم چې کوم يو پکې خوښ کړم
مرګ بېلتون راته راغلي نن جوړه دي
ستر حمزه بابا پښتني دودونو او اولسي آرونو ته په
خپلې شاعرۍ کې جوته ونډه ورکړې، وايي:
اخر به تيږه کړې زما او د رقيب ماته

ته ورسره چې کله کله جنګوې سترګې

خو ګهیځ بیا د همدې ماتې شوې تیرې ( سرغړاوي ) جوت او مثبت انځور د اسې کاږي:

پښتانه تیره کیږدي جوړه وکړي

ما سره هیڅ نه کوي لار بانه

ما د ګران ګهیځ د شعر له غره ( د خپلې لالهاندئ په پلمه کولو ) ایله همدا لالونه را وایستلای او وتوږلای شو ، تاسې ښاغلیو ته د نورو غمیو د را ایستنې، توږنې او ځلونې بلنه درکوم.

د ګهیځ د هنر د غوړیدا په هیله

محمد اصف صمیم

جلال کوټ

۱۵/۵/۱۳۸۲

# د بنګړو بار يې په
# بانه بانه ماتېږي...

لکه د سپین غره له تړو نه په منډو منډو راروان ځړوبی چې د لمنو ګلان ښکلوي، لکه د وېروونکې سارا د شپېلۍ اواز چې زړونه درزوي او ماران نڅوي، لکه د ختن د مشکو کاروان چې د وربښمو د تنګي پر لاره يې ورمې غولۍ غولۍ کېږي او د عطرو ډکه څپه يې د (( الفت )) تر ګلکڅه هم را اوړي او لکه د تور غر له هسکو څوکو د بهسودو پر سیند را الوتې بلبله، چې هره سندريزه زمزمه يې همداسې په ازانګو وي، چې (( روح د ملنګ جان دی تاته په زارو ))

پام کوئ، خبردار ! د بنګړو بار دی په بانه بانه ماتېږي، د زړه د وينو رنګ دی او که له اورني احساس نه رغېدلي ګلونه.

دا د ګهيځ شعر دی او دومره ښکلي رنګونه لري، لکه د بوډۍ ټال، دا يوه ډېره نرمه، لطيفه او باريکه شاعري ده او چې همدومره ورته ځان نرې نه کړې، نو نه دي پرېږدي، ځکه خو حميد بابا وايي:

نشته کار د هر نا اهل بوالهوس

چې قدم ږدي د دې ناوې پر جوس

زړه که د عرفان له هندارې وکتل شي، نو له ځمکو او اسمانونو نه هم ډېر پراخه دی، د ګهيځ شاعر زړه دننه دننه اتش فشانونه هم کړي، لمبې يې نه ښکاري، خو تاو يې د ده د زړه په بخرو ( شعر ) کې په غرغنډو دی.

د زړو جوړ خدايان به ډېر پيدا شي
خو زما ختټه خپل خالق پېژني

د ګهيځ شاعري دومره سپېڅلې ده، چې پکې د تصنع او تکلف هېڅ ډول څرک نه تر سترګو کېږي، بس دا هغه ډيوه ده چې په خپلو وينو بله شوې ده.

زمونږ دا اوسنی روان شعري بهير چې پکې د شعر ټول ارزښتونه تر پښو لاندې شوي او د رسنيو د يوه خبر سره يې هېڅ توپير نه ليدل کېږي، بربنډې خبرې دي او د هنر رنګ و ترنګ نه لري، نو چې خبره د تبليغ او شعار هم نه ده، زمونږ شاعر د کوم يرغلګلر ځواک پر ضد د کومو تودو مورچلونو جرس نه دی، نو بيا د کوم جواز له مخې هنر نفې کوي، ختيځ خو څه لوېديځ نه دی چې شاعر او هنرمند پکې په تبعيد کې اوسي، ځکه اقتصادي ټولنې خو انسان ته له مشين پرته پر بل کوم امتياز له سره قايلې نه دي.

زموږ د غه مقلدو شاعرانو ته به د پښتونخوا د یوه فاضل سید طاهر بخاري په حواله ووایم، چې دغې د ځمکې د مخ جنت (( لوېدیځ )) ته چې ترڅو د ختیځ د عارفو شاعرانو اثار نه و ورسېدلي، بلکل یې شاعري نه لرله او که منظومې وې هغه د یونان او روم د دیوتاګانو کیسې او اساطیر و، که شک لرئ، نو د شاعرانو او فیلسوفانو افکار یې وګورئ، چې د سنایي (رح)، عطار (رح)، مولانا رومي (رح) او نورو اغېزې یې سره ګډې کړي او دا ځکه علامه اقبال (رح) مجزوب پیرنګی ( نیچه ) یادوي چې لږ خطا شو او که اوس وی نو ما به ورته (( مقام کبریایي )) ښودلی وی.

یوه لـه وختـه تېره شـوې خبره بـه هم وکړم، چې کور، ډوډۍ، کالي...د ابن ماجه شریف حدیث دی، اقبال له همدې کبله مارکس ښیي چې: (( قلب او مومن دماغش کافر است ))

د لویدیځ رنسانس د اسلامي علومو مرهون منت دی او بیا افغان ولس چې د کولتور بوده او تنه یې له دغه روح نه جوړه ده، څنګه کېدای شي، چې خپل تاریخي مقدسات شاته پرېږدي، اروا ښاد استاذ علامه رشاد (رح) په ویل چې شعر د پردي تاړاک پر وخت حماسي و

ببرته به د هنر کمال ومومي، په دې مانا چې علامه استاذ حماسيت هم يوه اړتيا ګڼله.
له ښه بخته پياوړې وېناوال ګهيځ داسې شاعري کوي، چې د چا د پښتو څرک پکې نه لګي، تخليق همدې ته وايي چې يوه ساده تجربه زړه راښکونکې کړي:

چې پره کې راغلې اوس به انکار نه کړې
سپينه خوله به په چلم راسره ږدې

کټ مټ پښتني چاپېريال انځوروي، هرڅه يې زموږ خپل دي، رنګ، خوند، سندريز تال او که د ((انکار)) د ويي ربړه وي، نو د عربي او دري لغاتو خو د زرګونو کلونو له اندېوالۍ وروسته اوس د تابعيت حق موندلی دی.
لکه چې ړومبی مې وويل د شعر نړۍ ببلها او د ادا طرز يې هم يو ډول نوښت دی، ګهيځ له هرڅه زيات د غزل شاعر دی او غزل زيات رياضت غواړي، زه به په يوه بيت کې د شاعر کمال در وښيم چې څنګه يوه انقلابي خبره دومره نرموي چې ځواک يې پر خپل ځای، خو ظالم مخاطب به پرې هېڅ را و نه پارېږي:

چې په زړونو کې په زور اوسېده غواړې

که اورنګ که سکندر شي ماتې وخوري
منئ که نه، د ګهيځ په دې شعر کې د پښتو له دې متل نه چې (( په زور کلي نه کېږي )) هم ډېر زور دی، ځکه دا کلی د ختهو او د ګهيځ هغه د زړونو دی.
فن يا هنر د حسن مجسم کولو ته وايي، په دې مانا چې مجسمه ښکلا هنر دی، دغه ښکلا مصور يا انځورګر په رنګونو، سندرغاړی يې په ساز و اواز او شاعر يې په الفاظو تخليق کوي، راځئ وګورو چې ګهيځ د شعر ټکيو ته څومره ښکلا ورکولای شي او دغه رنګ اميزي څومره طبعي ښکاري:

سره لوپټه، سره اننګي او تکې سرې شونډې
بس ګرځوه يې ! دا لمبې درسره ښې ښکاري
سپرليه ! شين څادر په منډه منډه مه ټولوه
زمونږه غرونه او درې درسره ښې ښکاري

د ګهيځ د شعر په هنداره کې د ننګونو چاپېريال او دده د عواطفو اباسين په انعکاس او څپو دی، که څه هم ما به يوازې په ستاينه بسنه کړې وي او د شعر نيمګړتيا مې يې په نښه نه کړای شوه، دا دوه لاملـه لري، يو دا چې ګهيځ د ځوان کول د روان شعري بهير د سر تاج دی او بله دا چې معايب پربښودل او محاسن را ايستل د شعر په مذهب ګناه کبيره نه ده.

په تلو تلو کې ښاغلي ګهيځ ته د ده په خپله خوله د يوې بلې نړۍ وړاندېز چې دلته په ډېر تريخ هم وي، ورياد وم:

ګهيځه ! پام د ميخانې دروازه بېرته نه کړې

دا ځونډي دارې شنې تسبې درسره ښې ښکاري

په ولولو

ناګار

پوهنتون مېنه

۱۰/۵/۱۳۸۲

## ګهيځ !

## کليوال انځورګر او پښتون شاعر:

له تاسې څخه ډېر ښايي لا له وخته د ګهيځ سره بلد وي او يا مو هم اوس اوس ورسره بلد تيا شوې وي، خو زما دا څو کاله کېږي چې له ګهيځ سره ملګرتيا ده، د هغه له خواصو، خويونو او عادتونو سره ښه سم اشنا شوی يم.

ګهيځ ته څښتن تعلی لوړ، نېک او ښه اخلاق، د ښه شعر ليکلو ځواکمنتيا او له مينې خلوص نه ډک زړه دا ټول ور په برخه کړي او بله ښه ځانګړنه يې دا ده چې چا پوښتلی نه وي تر هغې د چا په کار کې کار نه لري.

ګهيځ سره له ذکاوته بيا هم خپلې خبرې د نورو خلکو پر وړاندې خامې ګڼي او خپله عاجزي او تواضع ښکاره کوي، دی وايي:

يوه نيمه پکې شي د کاڼي کرښه
که نه دومره مې خبرې پخې نه دي

ګهيځ که څو خپلې خبرې خامې، ځان تر نورو کم او بېوسه ګڼي، مګر بيا يې هم قلم د خپل ولس د ناخوالو،

کړاوونو، دردونو او ویرجنو پېښو د انځورولو څخه لرې پاتې شوی نه دی:

لړ وروسته له یو څو شېبو بمباره خړې خاورې
لوګیو سره پورته شوې له ښاره خړې خاورې
پر تا در وربدلي چې یې باد درنه یو نه سي
زمونږه د دې رنګ کلي چیناره خړې خاورې
سیلۍ ! هره شېبه مې یادوي څوک ورته ګوري
ځولۍ، ځولۍ مې مه وړه له مزاره خړې خاورې

یاداچې:

زه چې ماشوم وم هدیره مې په جنډو پېژندله
د ګودر غاړه مې په شنو سرو لوپټو پېژندله
چاودلې شونډې او زړې خیرې جامې په غاړه
هره افغانه مې په دغه علامو پېژندله

همدا ډول ګهیځ بیا په خپله شاعرۍ کې هغو کسانو ته چې د خپلو ګناهونو، خطاوو او ریاکاریو څخه لاسونه نه اخلي او لا هم د دې ولس وینې پلوري او د دوی په شتمنیو د خدای کور ته د ورتګ اراده کوي داسې پېغام رسوي:

په تش ورتلو په دې نوم وشي خو ثواب دې نه شي

که دا سې وي نو بیا خو لات هم په کعبه کې زوړ شو

رښتیا هم چې پښتون پښتون وي یو یې قول او یوه یې ژبه وي چې که د دار تر رسۍ هم ورسي، نو خپل اقرار او لوظ نه ماتوي، کهیځ هم د پښتو او پښتونولۍ دغه ستر دود ته کوم چې د دوو لوریو تر منځ له روغې جوړې پس هم خپله پښتو ضد ودروي، اشاره کوي او وایي:

پښتانه تیره کېږدي جوړه وکړي

ماسره هېڅ نه کوي لار بانه

همدا رنګه بل ځای بیا د پښتنو په ویر ژړېږي او د خپل ځان په چار چاپېره د پښتو ژبې د خواخوږو نشتوالی مخسوسوي او په ډېر معصومانه انداز سره وایي:

په خپل ماحول او مالت کې مړه ده

هېڅوک خواخوږي د پښتو نشته دی

له دې سره سره چې کهیځ یو بااحساسه او د خپل ولس د ناخوالو او کړاوونو ژباړن شاعر دی، د خپل کلیوالي ژوند انځورګر هم دی چې تصویرونه یې په ذهن کې اخیستي او د هغې انځورګري یې په خپله شاعرۍ کې له یاده ویستې نه ده، لکه په لاندې بیتونو کې چې وایي:

تشه راغلې له چینې منګی دې مات که

اوس به څه کوي باني منګکی دې مات که
په دوه ګوتو دې نیولی و له کبره
په نازونو باندې تلې منګکی دې مات که
تر پایه...
نه هغه مست مازیګر و ، نه ښایسته رنې اوبه
چې به هر ځای بهېدې وله، وله رنې اوبه
نه چینار لاندې منګي و ، نه مې شور د بنګړو واورېد
نه اوس هغه شین ګودر و ، نه هغه رنې اوبه
ترپایه...
یا داچې:
سترې شو سترې یې نظر څوک په کنډو ولاړه
لارې څارې د مسافر څوک په کنډو ولاړه
پېژندل کېږي نه د مخ رڼا یې سترګې نیسي
لکه رڼه وړانګه د لمر څوک په کنډو ولاړه
دې پېغلتوب، دې لېونتوب واړه له کاره ویستي
څوک خوشې خوشې په ګودر څوک په کنډو ولاړه
په اخره کې به همدومره پرې زیاته کړم چې د ګران ورو
ګهیځ پیغامیزه شاعرۍ د پښتو ادب د لا غوړېدا په لار

کې یو بل نوی ګام دی، خدای پاک دې یې نیک او
مبارک کړي
د ده د لا زیاتو بریالیتوبونو په هیله
انجینر سرحدي ځواک
روښان مېنه_ جلال کوټ
۱۳۸۲ د لیندۍ پنځمه



# خدایه!

خدایه ! ته مې دا شیندلی زړه راټول کړې
دا په غرو رغو لوېدلی زړه راټول کړې

په منځ نیم دې وي خو ډېر دې لرې نه وي
د غنم په خیر چاودلی زړه راټول کړې
هسې نه خدایه ! همداسې پسې ورک شي
دا په ورکو لارو تللی زړه راټول کړې

چې دې بایللو ده کهیځه ! اوس پردی شو
اوس به څه ببرته بایللی زړه راټول کړې

# شعور

چې د ښايست او ګل خالق پېژني
هغه يو ځان او بل خالق پېژني

د زړو جوړ خدايان به ډېر پيدا شي
خو زما خته خپل خالق پېژني

ګهيځه اوس چې هم په زړونو کې ده
څوک د هغې غزل خالق پېژني؟

# لمره !

بس يو خوب دی چې نظر په ژوندانه شي
د دې خلکو ځنګ باور په ژوندانه شي

ځوک چې لمره ! ستا د ستورو لاره نيسي
هغه واړه بختور په ژوندانه شي

# غزل

بیا به ژوند ، ژوند وی چې د اوس هومره ناکام نه وی
هر یو سړی ازاد وی، یو سړی غلام نه وی
دا کمزوري خو په والله سړی له پښو پرېباسي
یا خو چې مونږه نه وی، یا داسې نظام نه وی
د ازادۍ په اخیستو به خلک نه پوهېده
که یې په منځ کې دا مغرور، مغروره قام نه وی
اوس به وی لاس په لاس روان د ژوند په لویه لاره
که دې په زړه بلې لمبې د انتقام نه وی
بیا په یو ځای دواړه له بره شو پیکه شو سره
یا چې سپوږمۍ نه وی او یا سکنې مابنام نه وی

د ننه زړه ته به کهیځه د چا څه فکر و؟
که چرته ببلګه یې سوری، سوری بادام نه وی

# یو غږ
## یو نوم

که ولاړ یمه نو کېنم
که روان یم را ایسار شم
خوارږه توري دي چې غبرګ شي
بس یو غږ دی چې یې واورم
دا سې غږ....
چې قدم اخلمه تیندک شي
وروسته، وروسته پسې ګورم
مخکې پل راځنې ورک شي
په دې نوم کې څه لویي ده؟

چې دا غرونه ورته سپک شي
دا سې غرې...
چې تر مودو يې ازانګې وي
دا سې غرې...
چې به تر ډېره پسې ګورې
چې ماشوم په بې صبرۍ وو ايې:
( مورې.. ! )

# غزل

اوس دې پل د میخانې په مخ کې نښته
خو اثر دې د توبې په مخ کې نښته

د حبش مخ کې به ځل د رڼا وي خو
د روانې زمانې په مخ کې نښته
لاروېه ! اوس چې پل ږدې ابادي ده
ځه، ځه اوس دې ویرانې په مخ کې نښته
اوس راتلل شوې د وړې مینې کیسه شوې
اوس دې ډېرې افسانې په مخ کې نښته
زولنو کې دې جوړ لړې ورځې کېږي؟
د شپېږو دې خاپې په مخ کې نښته

انقلاب يې د چرګۍ مين راټول کړل
اوس يې څوک د جنازې په مخ کې نشته

چې پښې ورپسې واخلي ورسره شي
د ګهيځ خو قافلې په مخ کې نشته

# غزل

غرمې او ماښامونه په مزل کې خو رائي
دا ځای، ځای تيندکونه په مزل کې خو رائي

دا لار ده يا به اوړو يا به لو پړو ترېنه ښکته
دا غرونه ګړنګونه په مزل کې خو رائي
راپاڅه لاروية! چې د پښو تناکې وچوي
يو ورځ به منزلونه په مزل کې خو رائي
بيا څه وکړم که ستا نيولی پل يې رانه ورک کړ؟
بادونه بارانونه په مزل کې خو رائي

راڅه! مړه ګهيځه په تا هر وخت مازيګر وي
د پښو په سر خوبونه په مزل کې خو رائي

# غزل

ما زیګر دی، لمر روان دی په غرو اوړي
شپې ته ګوري پرېشان دی په غرو اوړي
دا چاپېره چې ترې خړ ګردونه ښکاري
دا لښکر د ایمل خان دی په غرو اوړي
یو لمر نه دی چې ترې اوړي پنا کېږي
د کړی ورځې ارمان دی په غرو اوړي
زماني خو څه زنځیر مات کړی نه دی
لېوني د وخت انسان دی په غرو اوړي
د ګهیځ لکه چې ښه کمی راغلی
توري وربځې دي باران دی په غرو اوړي

# غزل

د یوه مزدور په لیدو

څه جنګونه څه به نور د ښمني وخوري
پښتانه به اخر هم تربګني وخوري

نور به څه یې؟ نور دې څه وګنم یاره؟
لکه ګل چې بیابان یې ځواني وخوري
د زانګو په زنګېدو یې مېندې ستړې
چې رالوی شي توري خاورې زلمي وخوري
دا د غرونو غرځني غرونو ته پرېږدئ
زنځیرونه خو به دا لېوني وخوري
دا ځای یاد لره، په وږي نس به مړ شې
ای مزدوره! تا به دغه خاني وخوري
شپې په تولو سبا کېږي خو کهیځه!
کله، کله مې د ژوند دوه مخي وخوري

# سپین قبر

له کومو سترګو نه چې شرم او حیا تللې
هغو مخونو نه هم نور تللی رڼا تللې

هغه اوس لرې ده، هغه د پوال نه پورې نه ده
هغه له دې ځایه د اوو غرونو ترشا تللې
هغې به ډېر ویل خو ما به پرې باور نه کاوه
کلی تالا والا دی کړه یې رښتیا تللې
د دې سپین قبر او خاموشې جینۍ څه رشته ده؟
دا چې راغلې ده نو بېرته په ژړا تللې.

# غزل

ځینې ورک شي چې څو شپې ورباندې واوري
ځینې وي که زمانې ورباندې واوري
پدې لارو کې د پلونو عمر کم وي
چې ترې ځې خاورې ایرې ورباندې واوري
زمونږ چم کې د ځوانیو پسې ورکه
ته یې واخلې چې روژې ورباندې واوري
مونږه څو څو دومره لاره درنه غواړو
چې زمونږه قافلې ورباندې واوري

که جانان لاره بدله کړه ګهیځه !
ښه شوه پړه به د جرګې ورباندې واوري

# ملنګ او لېونی

لېونی زمونږ د ښار دی که ملنګ زمونږ د ښار
دا دواړه دوه مخونه دي د جنګ زمونږ د ښار

دا دومره ژړ تري بیا زمونږ د وینو سرخي څه شوه؟
چې زیړ لکه خزان ښکاریږي رنګ زمونږ د ښار
چا پېره تري د غرونو په لمنو کې ودان دي
دا خړ کلیوال تل ولاړ په ننګ زمونږ د ښار

ګهیځه ! که سپین پوستي یې ( د لمر د کورنۍ دي )
دا تور زلمي دانه دانه لونګ زمونږ د ښار

# غزل

غــورړ تــه مــې لاس کــه، تو بــه لــه جنګــه
کــوز مــې ټو پــک کــه، لــه خپلــه څنګــه

یــا بــه پکــار شــي، ګــرد بــه تــرې پــو کړم
یابــه شــي خــاورې، د ځــان لــه زنګــه
تــه کــه مــې داســې، پــه کــانړو ولــې؟
بیــا بــه درنــه شــم، تېــر لــه قلنګــه
خپــل ویــده زړه تــه، کلــه ناکلــه
اخلــم ملګــرو، مســتي لــه بنګــه

تمامــــه شــــپه مــــې، ســــترګې ورنغلــــې
ســــتا د میراتــــو، بنګــــړو لــــه شــــرنګه

ګهیځــــه ! ټــــولې، کوڅــــو کــــې ګرځــــي
ځوانــــه ملنګــــه، بــــوډۍ ملنګــــه

# زماني

د سپيني تورې څل دې کړې را يادې زماني
په ياد د چا اتل دې کړې را يادې زماني

روان يې لاروي ! تا ځادر په سر نيولې
په رنگ و بنگ مزل دې کړې را يادې زماني
هاى ! دا دې د ښايست پرې څه لنډۍ بازار جوړ کړى
خواره واره وربل دې کړې را يادې زماني

زاړه روايتونه يې پلو کې غوټه کړي
کهيځه ! په غزل دې کړې را يادې زماني

# غزل

تا ته پرې لږ بر چې درکتی نه شم
څه به کړم نظر چې درکتی نه شم
ستا د جادوګرو پېریانو سترګو
څو مره دی اثر؟ چې درکتی نه شم
سپینه شې، سپوږمۍ شې چې درګورمه
مه شې لکه لمر چې درکتی نه شم
تا به ورته سره جوړه ساتلې وي
را مه شه اختر چې درکتی نه شم
دنګه شې شمشاد غوندې، پامیر غوندې
نه لکه خیبر چې درکتی نه شم
څه یې کړم ګهیځه یاره! څه یې کړم؟
هغه مازیګر چې درکتی نه شم

# غزل

چې لمر پرېوځي راځي له رنګه تور دی خلک وژني
زمونږ نیمایې عمر سړي خور دی خلک وژني

آمر شو خو له مرګه یې تر مرګه لاس وانه خیست
لا پاتې یې په کلي انځور دی خلک وژني
په جنګ کې خو چړې، تورې، ټوپکې سړی وژني
له جنګه په شا تېښته کې پېغور دی خلک وژني
بیا کوم مئن په نیمه شپه په غېږه کې نیولی
ته غوږ شه ! څه د سوي رباب شور دی خلک
وژنـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي

سپوږمۍ لا راختلې نه ده بېرته په لوېدو ده
د تورې تورې شپې څادر راخور دی خلک وژني

# غزل

ثیرې او شلېدلې تنهۍ سوي چې بې اوره دي
دا تنکي تنکي ماشومان خامخا بې موره دي
ثنګ به وایه ! وخاندو مونږ، ثنګه به یې هېرې
کړو ؟
دلته خو دوه درې جنازې وتې له هر کوره دي
زمونږ سرې سرې کوڅې وېره راولي زړه ته
ستاسې د مالت کوڅې تل ډکې له شوره دي
لاړه پسې د ښتې ته خو خدا بزده که یې ومومي
دوه واړه واړه لاسونه پاتې یې له وروره دي
غمه او سه زړه کې مې، نورو زړو ته مه ورځه
نور خلک کمزوري دي کله ستا له زوره دي

درد سره عادت شوم ګرانه مه راځه نور مه راځه
اوس مې د زړګي داغونه وتي له ټکوره دي

# غزل

که دي ښکلي که بدرنګ، ستا د مخ په آینه کې
اړوي په بله رنګ، ستا د مخ په آینه کې
چې یې ګورې یوه دنګه ښاپیرۍ ورته ولاړه
وي یې دوه سترګې په جنګ، ستا د مخ په آینه کې
غوړولي یې (پرهره !) هر نظر د سوال ځولۍ ده
دا در ګوري چې په څنګ، ستا د مخ په آینه کې
د ډېرو زمانو یاد یې په ذهن کې ساتلی
توري نه دي کړي زنګ، ستا د مخ په آینه کې
باور وکړه هر ښکلی پکې دومره ښکلی ښکاري
لکه بنګ او یا لونګ، ستا د مخ په آینه کې

---

پورته غزل د قاري صاحب پرهر شعري ټولګې ته لیکل شوي چې ( ستا د مخ په آینه کې نومېږي )

# سیلۍ

لږ وروسته له یو څو شیبو بمباره خړې خاورې
لوګیو سره پورته شوې له ښاره خړې خاورې

پر تا دروربدلي چې یې باد درنه یونه سي
زمونږه ددې رنګ کلي چیناره خړې خاورې
له مانه پکې ستا هغه د لاس نښه لوبدلي
راځه راسره ولټوه یاره خړې خاورې
که غم کله راپرېښوه یوه ورکه خوشالي ده
څنډمه ورته مخکې له ستاره خړې خاورې

سیلۍ ! هره شیبه مې یادوي څوک ورته ګوري
ځولۍ، ځولۍ مې مه وړه له مزاره خړې خاورې

# د یو مازیګر په یاد

نه هغه مست مازیګر و ، نه ښا پسته رڼې اوبه
چې به هر ځای بهېدې ، وله وله رڼې اوبه

نه چینار لاندې منګي وو ، نه مې شور د بنګړو واورېد
نه اوس هغه شین ګودر و ، نه هغه رڼې اوبه
ستا ثواب تر هغو زیات دی چې یې ډېر سرونه غوڅ کړل
په سرو وینو کې پرتو زلمو ته وړه رڼې اوبه

تا ځپو ته کتل یاره ! ما اوبو کې ستا پېکي ته
څه نرۍ نرۍ وږمه وه او چینه رڼې اوبه

# ورکې لارې

یو ځل د رځمه راته لار وښیه
ستا سو تر چمه راته لار وښیه

نور مې په ورکو لارو مه ګرځوه
بس یوه سمه راته لار وښیه
په تروږمیو کې سپوږمۍ ولاړ یم
دا ستا په تمه راته لار وښیه
ځان رسوم منزل ته ستړی ستړی
نه کوم دمه راته لار وښیه
د سر ویښته مې زیاتي مه سپینوه
د جانان غمه راته لار وښیه

# غزل

ما ورته یاده کړه هغې راته ښه هم ونه کړه
یو شېبه غلې وه خو وروستو یې نه هم ونه کړه

زمونږ به خدای څه پورې اېستي و چې ورک یې نه کړو
دې بندګانو خو یې لږه ایله هم ونه کړه
دا څنګه وسو او دا څنګه په ایرو بدل شو؟
دې خو لوګی ونه کړ، دې خو لمبه هم ونه کړه
ددې مالت د هر یو کور دېوال راونړېده
خو اوسېدونکو یې په هېچا دعوه هم ونه کړه

ګهیځ یې ستا په مینه ستا په یارۍ وشړلو
تا یې له کلي نه د تلو تماشه هم ونه کړه

# غزل

سترګې شو سترګې یې نظر، څوک په کنډو ولاړه
لا رې ځارې د مسافر، څوک په کنډو ولاړه

پېژندل کېږي نه د مخ رڼا یې سترګې نیسي
لکه رڼه وړانګه د لمر، څوک په کنډو ولاړه
یار یې د تورې شپې په غږ بېګاه له کوره وتی
د اند ښښنو پنډه یې په سر، څوک په کنډو ولاړه
دې پېغلتوب، دې لېونتوب واړه له کاره ویستي
څوک خوشې خوشې په ګودر، څوک په کنډو
ولاړه

ګهيځـــه ! دا د درزېـــدلو، دېوالونـــو بلـــۍ
چې ورته ګورې پرې اکثر، څوک په کنډو ولاړه

# غزل

وخت همغه دی خو خلک هاغه نه دي
بهر ښه دي خو دننه خدا پېزده څه دي؟

د کښـﹻ فصل دی خړې پرې را اوړي
دا قومونه ګوره مړه دي که ویده دي؟
((ورته وګوره ! په دې که دا رغېږي
ستا پرې څه ځي ستا خو یو نظر کاته دي))
په دې سوي سوي زړه کې ستا یادونه
په باران باندې د للمې غنم شنه دي
فکر وړی یم چې کوم یو پکې خوښ کړم
مرګ بېلتون راته راغلي نن جوړه دي

سرې منګولې د لالپورې په نکرېزو
نرۍ شونډې د سپین غره په دنداسه دي
خوښه ستا ده سیلۍ وړې یې که پرېږدې یې
څو لار ورکي را روان په دغه پله دي
((ما ویل ژوند څه دی؟)) هغه دېوال ته مخ که
د مېږي غونډې خاته دي پرېواته دي

هسې نه کهیځه! شپه درباندې راشي
د یارانو مجلسونه دې خواره دي

# غزل

لو ېږې به ضرور په کومه لار سپوږمۍ روانه يې؟
ګورمه دې زه چې د اسمان په جۍ روانه يې
ته خو به له کبره تل د ګوتو په سرونو تلې
وايه ! چې دا نن څنګه ځولۍ ځولۍ روانه يې؟
لړه پښه نيولې نه شوې ټول ګلان دې وزمولل
منډه باندې راغلې لکه شړک ږلۍ روانه يې
سمه لکه شپه او ورځ يوه بلې پسې راځې
وړاندې وروسته نه شولې پېړۍ پېړې روانه يې
داسې ورځ به هم راشي چې دا لارې به بېلې شي
ځانله ځانځانۍ که به ګونګۍ ګونګۍ روانه يې

تش د پښو ګرد دې د ګهيځ په شونډو ولوېده
ته ترېنه پنا شولې غونډۍ غونډۍ روانه يې

# پل

اروا ښاد صاحب شاه صابر ته !

قافلې نه مو يو بل لاروی ستون شو
څه پياوړی د غزل لاروی ستون شو

نور يې پرېښوده مزل لاروی ستون شو
رانږدې چې شو منزل لاروی ستون شو
د غزل پسې وړې وړې سلګۍ شوې
هر يو توري يې ژړل لاروی ستون شو
درته نه مې ويل سيلۍ ! چې پسې مه ځه
ترېنه ورک دې کړلو پل لاروی ستون شو

څه باور دی په دې لارو په دې دښتو
له هر چا نه په کې خپل لاروی ستون شو
په شپه یې د کلونو لاره پرې کړه
لکه باد ما ورکتل لاروی ستون شو

(قامتونه قیامتونه) یې راپرېښوه
په (خوبونو) کې په ځغل لاروی ستون شو

---

(قامتونه قیامتونه او خوبونه د اروابناد دوه شعري ټولګې دي)

# د تندي کربښې

هره شپه په همدغې ارزو ویده شم
د فکرونو په تېرو اغزو ویده شم
نوې نوې اندېښنې مې زړه ته راشي
خو خدای یاد کړم په توبو توبو ویده شم

وایم که داسې څوک بزرګ په خوب کې راشي
چې د دې نه وي د بلې زمانې وي
چې مې کربښې د تندي وښي لوستلای
چې د راز سړی وي پوه په یارانې وي

چـې لـړ وګـوري دې مـات تنـدي کـې څـه دي
او روانـــې چـــې دي کـــومې حـــادثې دي
چـې پـه کرښـو هـم همـدا تيـارې خـورې دي
کــه نــه بــل خــوا نــه راغلــې دا تيــارې دي

نو !

کـــه د وخـــت او د تنـــدي خبـــر يـــوه وي
بيـــا بـــه ســـمه د پښـــتو هغـــه ټپـــه وي
چـــې بـــه چـــا ملالـــې پيغلـــې وي ويلـــې
پکــې نغښــتې بــه د چــا د ژونــد کيســه وي

دا بـــه چـــا ګريـــوان څيرلـــی پـــه ښـــېرو وي
دا ټپـــه بـــه يـــې ويلـــې پـــه ســـلګو وي
نصيبه وسوځې ايره شي
تنديه مات شې په تايې څه ليکلي دينه

# د ژوند په لټه

په بله اوړي که په امان يې نه کړو
وطن په څه شو چې ځان يې نه کړو
د وخت په منډو خواشيني نه يو
خپه په دې چې ارمان يې نه کړو
ستړي شو ستړي، د ژوند په لټه
خواري کوو خو ودان يې نه کړو
دې ورکو لارو په مخ تبا کړو
خو لا خواشيني پښېمان يې نه کړو
په دښتو راشو، په دښتو ورک شو
راشنه په وربځو باران يې نه کړو
مزل مو داسې پښې ګنډه کړې
زماني اوړي روان يې نه کړو
ګهيځه ! بيا به يوازې نه ځو
چې قافله او کاروان يې نه کړو

# باد

## د ناکار صیب د یوه غزل پر پله

(عشق چې نوم د سر د ټیټېدو شو مونږ نه پاتې شو
حسن دې جانانه د کوڅو شو مونږ نه پاتې شو)

وږی چې د خاورو د ایرو شو مونږ نه پاتې شو
باد قاتل زمونږ د قدمو شو مونږ نه پاتې شو
جنګ نه و جهاد و چې هم دښتو او هم غرو وکړ
بیا چې نوم د شخړو او جګړو شو مونږ نه پاتې
شـــــــــــــــــــــــــــــــــو
غـږ بـه نـه و یـار بـه لکـه ګـل تـر خـوا راوتو کېـد
اوس چې د لمنې رانیوو شو مونږ نه پاتې شو

دا پړونــی، دا ســالو درونــد و د شــملې هــومره
خور چې د ګودر په چینارو شو مونږ نه پاتې شو
مــونږه لاروو مــزل د لمــر پــه تنــابو کــړی
لمر چې په سلګو شو په لوېدو شو مونږ نه پاتې شو

دې خو بـه د تـورې شـپې سـینه کـې لارې وکړلـې
نن ګهیځ کمزوری په تیارو شو مونږ نه پاتې شو

# سپوږمۍ ته ولوېدې...

سپوږمۍ ته ولوېدې او شپه له نیمې ډېره پاتې
تیاره خوره شوه لار له سترګو ورکه
چا لا روي مسافر تېره تر سر لاندې کړله
ورته په مخ کې بلها لار پرته ده

***

سپوږمۍ ته ولوېدې او شپه له نیمې ډېره پاتې
لوګرو ربېلې کودې کېښودلې
او د غنمو پخه لیکه لا پر ځای ولاړه
سیلۍ شېبه په شېبه زور اخلې

***

سپوږمۍ ته ولوېدې او شپه له نيمې ډېره پاتې
مور مې جامو کې ستنه وټومبله
ملا آذان به مې ملګري دروازه ټکوي
زما د غاړې جامې هم خيرنې

***

سپوږمۍ ته ولوېدې او شپه له نيمې ډېره پاتې
مانه دې ځان سره د ټول عمر ارام يووړ
ببرته دې سترګو کې زما د يار سلام يووړ...

# غزل

دومره دې هم نه دي خونکار بانه
تا عادت کړي دي په ښکار بانه
نن مې پرهر ته دي پکار بانه
یا راته ستنه که یا تار بانه
زما د زړه د زخمو شمار مه کوه (۱)
د دواړو سترګو دې که شمار بانه
پښتانه تیره کېږدي جوړه وکړي
ماسره هېڅ نه کوي لار بانه
ګهیځه ! ته دې په ژړا مړ شې
خو چې لا مده نه شي د یار بانه

۱_ د خاطر اپریدي د لاندې بیت تاثر
د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
که د دې خپلې خندا شمار دې وکه

# غزل

تشه راغلې له چینې منګی دې مات که
اوس به څه کوې بانې منګی دې مات که

په دوه ګوتو دې نیولی و له کبره
په نازونو باندې تلې منګی دې مات که
د پېرو پېغلو و په غېږ کې ګرځولی
دا د کومې زمانې منګی دې مات که

مات کودې یې د ګهیځ په قبر کېږده
که دا شین د جګې خولې منګی دې مات که

# غزل

دې نرۍ ته په راتلو باندې پښېمان يم
خو اوس څه وکړمه اوس پکې ودان يم
د منزل لاره مې دې لارو کې نه شته
که نه ناست نه يمه شپه او ورځ روان يم
ته باور وکړه په دې هم خبر نه يم
چې لا څنګه وم ماشوم او څنګه ځوان يم
کله يمه کله ډېره موده نه يم
د خپل چم د مرور سپرلي په شان يم
ماشومان به مې ضرور په کانو ولي
چې روان داسې رېښې رېښې ګرېوان يم
زما زړه لکه پرېوته داسې خور دی
هسې نه يم چې يو سر يمه يو ځان يم
ګهيځ څه لري؟ چې ګټه پکې وکړي
خو خپه يې په دا بې ګټې تاوان يم

حيات الله ګهيځ www.samsoor.com د سپوږمۍ شپه

# مات سپاهي

څه په لر شي څه په بر شي ماتې وخوري
سره ببیل ببیل مو لښکر شي ماتې وخورې

د (نصیب) سره په جنګ کې بری نه شته
که څوک څومره زورور شي ماتې وخوري
چې په زړونو کې په زور او سېده غواړي
که اورنګ که سکندر شي ماتې وخوري
مخامخ د سترګو جنګ کې هره ورځې
رانه یار مې مرور شي ماتې وخوري
یو څوک روغ نه دی د مات سپاهي په څېر دی
اوس چې هر یو کارته ورشي ماتې وخوري
ګهیځ کلک دی خو د غم کاوا که غرو ته
که پخپله لکه غر شي ماتې وخوري

# غزل

په تهمتونو رنګ جامې درسره ښې ښکاري
له کلي مه ځه! دا کوڅې درسره ښې ښکاري

اوس مې ربښې ربښې ګرېوانه پورې ځله خاندې؟
تا راته ويل چې زولنې درسره ښې ښکاري
سره لوپټه، سره اننګي او تکې سرې شونډې
بس ګرځوه يې دا لمبې درسره ښې ښکاري
سپرليه! شين ځادر په منډه منډه مه ټولوه
زمونږه غرونه او درې درسره ښې ښکاري

کهيځه! پام دمېخانې دروازه ببرته نه کړې
دا ځونډې داره شنې تسبې درسره ښې ښکاري

# غزل

غړمې د زړه د درزېدو نه شته دی
نه شته دی نیت دې د راتلو نه شته دی

د پشکال تبې دې تپرې کړلې
ځکه دې سره د اننګو نه شته دی
نه دې خال ایښی نه دې سترګې تورې
لکه چې وس دې د رنجو نه شته دی
په خپل ماحول او مالت کې مړه ده
هېڅوک خواخوږی د پښتو نه شته دی

چې دې چارګل له پوزې وغورځوي
اوس هغه زور مې د برېتو نه شته دی

# غزل

اروابناد طاهر فرهاد ته !

لاړې کنړونه دې بې خونده کړل
مړه دې کړو وختونه دې بې خونده کړل

دا دې څه په نیمه لار کې پرېښودو
پاتې مزلونه دې بې خونده کړل
خپل وړوکی (ستوری) دې بې سیوري که
خپل ګلونه ورونه دې بې خونده کړل
زیړ مازیګري دې تول بې شوره کړل
شنه شنه سحرونه دې بې خونده کړل

پېغلـــې نـــه اوبـــه وړي نـــه تېـــې وايـــي
راشـــه ! ګودرونـــه دې بـــې خونـــده کـــړل
تـــه کـــه يـــې فرهـــاده ! زاره چـاودی کـــړې
دا مغـــروره غرونـــه دې بـــې خونـــده کـــړل

موســـک نـــه شـــو ګهيځـــه د فرهـــاد غونـــدې
وران دې کـــړل لفظونـــه دې بـــې خونـــده کـــړل

# یاد

د اند په تال کې

زه چې ماشوم وم هدیره مې په جنډو پېژنده
د ګودر غاړه مې په سرو شنو لوپټو پېژنده

چې د پرې ښځې به یو ځای کوم ځای راټولې شولې
ما به مې مور پکې په اوښکو او سلګو پېژنده
چاودلې شونډې او زړې څیرې جامې په غاړه
هره افغانه مې په دغه علامو پېژنده

چې به د چم د جینکو سره په لار تېرېدې
منې چې ما به دې شرنګا د شنو بنګړو پېژنده

# سپوږمۍ

له تندي وسوه له مستۍ ولوېده
د ګل له څانګې نه غوټۍ ولوېده

مونږه خواران خو يې له ژونده خلاص کړو
ښه شوه چې دا هم له بلۍ ولوېده
د کوم ښکاري له سترګو وو برېده
له ګړنګونو نه هوسۍ ولوېده
تا ويل رڼا ده څوک مې و نه ګوري
اوس خو تياره شوله سپوږمۍ ولوېده

لا يې بڼو کې زړونه ځوړند ښکاري
چا ويل له زوره لېونۍ ولوېده

# یوې ملنګې ته !

اوښکو سلګو دې ځورولی یمه
جړو ویښتو دې ځورولی یمه

دا ته د کوم مالت د کوم کلي یې؟
هر ځل لیدو دې ځورولی یمه
دنګه چیناره د ګودر ښایسته
راپرېوتو دې ځورولی یمه
کاشکې چې پخپله وی نو بد به نه وی
تل په پردو دې ځورولی یمه

د غریبۍ د بې وسۍ اختره !
هر کال راتلو دې ځورولی یمه

# غزل

کومې لیلی ته سر په غېږ کې خپل مجنون ایښی دی؟
خو چا په تیږه ایښی چا په خپل زنګون ایښی دی

کلونه وشول نه یې درد ورک شو ، نه نورې نښې
دا سې ژور داغ دې په زړه راته بېلتون ایښی دی
هر یو مین ورته د ورک نظر په لټه ګوري
دا ستا په سترګو کې د ټول عالم سکون ایښی دی
دا خو منو چې تل پرې نورو اچولي خښتې
دا به منې ! چې سر پرې ټول عمر پښتون ایښی دی

چرته سرې دي که تودې راټولې کړې يې دي
بيا يې ګهيځ غريب ته نوم پرې د ژوندون ايښی دی

# غزل

د کمین صاحب د یوه غزل په لاره

زه به ډېر ږدم ته به کم راسره ږدي
خو په سر به د غه غم راسره ږدي

د وطن په دې زخمي زړګي به
زه پټۍ او ته ملهم راسره ږدي
د پردیو له لاسونو نه به یې ساتو
یاره ! سر به په دې چم راسره ږدي
چې پره کې راغلې اوس به انکار نه کړې
سپینه خوله به په چلم راسره ږدي
د کمین په خړ مزار باندې جانانه
څو ګلونه به ته هم راسره ږدي

# زمونږ غرونه

زمونږ غرونه د تکبیر په نارو دنګ دي
هر بري کې مو همدا مورچې د جنګ دي

(غر) او (تندر) د دارو نومونه نه دي
دا نومونه د قامونو د غورځنګ دي
عجب غرونه دي خپل کلک په غېږ کې نیسي
خو پردي یې تل لوېدلي له ګرنګ دي
د تکبیر هره ناره پکې پژواک کړي
دا چاپېر غرونه مو تول ولاړ په ننګ دي
لېوني یې کړمه غرونو ما دروا خلئ
په ما خلک د دي چم او ګاونډ تنګ دي
ته سپین ږیری شوې ګهیځه ستا همزولي
لا تر اوسه د اومه وړکو په منګ دي

# غزل

سعید زابلي ته

غمونـه راغلـه ورتـه يـاره چـې تـا کـډه وکـړه
زمـا د زړه لـه رنګـه ښـاره چـې تـا کـډه وکـړه

تـورو تيـارو کـې مـو بيـا يـو بـل سره ونـه ليـده
زمـوږ لـه چـم ځنـي سـهاره چـې تـا کـډه وکـړه
درده ! په بل زړه کې به دا سې ځای ځوک کله درکړي
زمـا د خـوږ زړه لـه پرهـاره چـې تـا کـډه وکـړه
بيا نه راتول شو نه مو شپې په شوګيرو رڼې کړې
بـس لـه دې ښـکلي ننګرهـاره چـې تـا کـډه وکـړه

ګهيځه ! نه شته پرې د تـورو خاورو غرونه جوړ دي
د چـا د دوه سـترګو لپـاره چـې تـا کـډه وکـړه

# یو لاروي ته

غریب له پښو لوېدلی سترې دی د تلو نه دی
یو څو شېبې به وي خو ډېر د تمېدو نه دی

وخت سره منډو کې کمزوري تل تر پښو لاندې
وي
دا وزرونه غواړي دا مزل د پښو نه دی
ژوند غورځېده دي، پاڅېده دي او اخر مرګ دی
په دغو لارو تګ د سترو لاروو نه دی
دومره سخت نه دی لکه مونږه چې سخت کړی دی ژوند (۱)
ژوند د هوښیارو کار دی ژوند د لېونو نه دی

چې لېونی شي سړی ځان یې نه وي درد یې نه وي
چې درد و نه لري سړی شمار په ژوندو نه دی
لکه ګل وغوړېږي بېرته پاڼې پاڼې توی شي
دا د خو ورځو ژوند دی دا د زمانو نه دی

د ګهیځ خوښ دی خو دا تور سکنی ماښام یې پکې
دا سې جانان دی چې یې هېڅ د هېرېدو نه دی

---

(۱) دغه خبره ما له درانه استاد محمد اصف صمیم صاحب نه ډېره اوربدلې.

# ځنګل

داسې نه وي چې د چا په زړه وربېږي
د خوښۍ شېبه يې وروسته، وروسته کېږي
ايرې نه دي لا سکروټې دي بلېږي
باده! لاره ترېنه واړوه سوځېږي
زړه مې لوی ؤ خو اوس لويه هديره ده
ما به وړی وی خو نه پکې ځائېږي
شمې ستا د لمبه ژوند مانا به څه وي؟
څوک ستي کړې، چاته ځان سېزې بلېږي
د هوس جنګ دې د کلي منځته راغی
څنوره ځوانه! ځې که پاتې کېږي

دا ځنګل دی دا د هرې بلا کور دی
د ګهيځ ((ارمانه! چرته يې ورکېږي))

# یاد

چې نوم دې یاد شي نو هغه شېبه ارمان وي یاره
زمونږ محفل باندې خو ستا د یاد باران وي یاره

څه زوروور یې د ژوند پاڼه اړوې په بله
د ژوند د پاڼې اړول خو بلا ګران وي یاره
لږې سیلۍ او توپانونه خو ونه لګېده؟
راځه ! راځه ! پخوانې پلونه به دې وران وي یاره
مونږه به ځو خو قافلې به جوړوو او ځو به
دا لېوني پرېږده چې ځان ځانله روان وي یاره

ګهیځه ! اوس نو د جرګو خبره پاتې نده
ګټه دې ستا وي او زمونږه دې تاوان وي یاره

# غـزل

چـې يـې لـه كبـره پـه سـرونو پښـې كېښـودلې
دې بـې غېرتـو همـاغو تـه سـجدې كېښـودلې

هغـه مُغُـل چـې ايمـل خانـه تـا تـرې زړه ويسـتى ؤ
اوس دې لمسـيو ورتـه جګـې شـملې كېښـودلې
مـونږ ډېـرې دښـتې او مېـرې لـه پښـو وايسـتلې
تـا پـه دې لنـډه لاره خـومره دمـې كېښـودلې
بـره پـه غـره كـې د ښـترو ژړا غلـې شـوله
لكـه، چـې نـورې سـوداګرو ارې كېښـودلې

ګهيځـه ! اوس نـو مـرور جانـان تـه څـه ووايـم؟
نـه رښـتيا كېږي تـا خـو ډېـرې وعـدې كېښـودلې

# غرور

په نیمکښه تمبو ولاړې
سترګې دې سرې دې ولې ژاړې؟

شونډې دې وچې زلفې جاړې
په سر ټیکرۍ دې تراړې، تراړې
کچکول راښکته که له غاړې
لټوې څله پسې شاړې
که په رښتیا ترې ځان رانغاړې؟
دا ورته وایم که ته یې غواړې؟

که خدای مې ته وې رانه لاړې
که خدای مې بل وي، تا نه ښه به مې ساتینه

# ورانې مېنې

هسې په خوله وايم چې ښه يم
لکه غنم چاودلی زړه يم

زرې، زرې دانه دانه يم
ورکه تنهی د کړېوانه يم
په ځان پوهېږم نه، چې څه يم
په لار ځنګېږمه ويده يم
خپه د خپل زړه په کاله يم
د ېره په ورانه کنډواله يم

کله به يم، کله به نه يم
زما په ورانو مېنو، مه ګرځه مينه

# ارمان

چې څو مره بد شو هو مره ډېر شو
ژوندون مې زهر شو، ګندېر شو

زړه مې په څولو مو کې ګېر شو
د بېرته تلو نوم ترېنه هېر شو
د غم د غرونو لاندې زېر شو
دا هم ګهيځه! ستا په څېر شو

عمر عبس را باندې تېر شو
لکه رېدی په بیابانو ورژېدمه

# غـزل

یــو دې غــم دی، بــل دې یــاد نــاکراري ده
د بېلتــــون رالــــوتی بــــاد نــــاکراري ده

د خوښــیو شــېبې چاتــه یــادې نــه دي
لــه مــودو مــو پــر هېــواد نــاکراري ده

هــا ! چــې نــور تــرې نــاکراره دا کــرارۀ
پــه هغــه اســلامابــاد نــاکراري ده

ځنــورو زلمــو ! بیــا درتــه پــه تمــه
لــورې څــوکې د شمشــاد نــاکراري ده

د کــونړ د غرونــو هغــه ښــکلا نشــته
ترېنــه تللــی دی ((فرهــاد)) نــاکراري ده

د کهــیځ غــزل لــوګی ســتا لــه وربلــه
ســتا لــه لــورې ورتــه داد نــاکراري ده

# د ټپي ورو ستۍ خبرې

اخ !
د ټپونو شمار مې پر بېږده
ما کم نصيبه توره ماته راوړه
لينده په لاره کوم شهيد نه واخله
سينه کې بند غشي مې اوباسه
او ،
جنګ ته لاړ شه.. !

# غزل

اوس مې خپګان په لېونو راغی
لاړل باران په لېونو راغی

چې نه د ښار شو، نه د خړو د ښتو
دا څه دوران په لېونو راغی؟
د مېخانې وره کې یې شیخ ولیده
ځکه لړزان په لېونو راغی
بیا ترېنه جوړ لوپټه باد وړې ده
بیا یې ګومان په لېونو راغی
د بوړبکیو پر پلونو لاړ چې نه شو
ګوره! توپان په لېونو راغی

ګهیځه! چا ورته ازار کړی دی
څېرې ګرېوان په لېونو راغی

# غزل

له سپېره بخته بې کلي بې کاله دي
څوک په خړو دښتو مېشت دي، څوک په غره دي

څه وېدي، وېدي شېبې دي خاموشي ده
دغه نښې د موسم د بدلانه دي
نیمه شپه شوه دا په کوم فکر کې تللي؟
لا تر اوسه ناست دي سر په زنګانه دي
د تاریخ زاړه بابونه چې راسپړې
ښې د بل دي او کیسې د پښتانه دي
د سپوږمۍ په دې زبېښلې تته شپه کې
دا خالونه دي د ستورو نه رانه دي

په نري باد سره هم ریژي کهیځه
د دې باغ ګلونه هسې په بانه دي

# انسان ته!

که وروردې نه وی، نو تربور به نه ؤ
که تربور نه وی، تربګني به نه وه

که تربګني نه وی، جګړې به نه وی
که جګړې نه وی، دښمني به نه وه
که دښمني نه وی د ځمکې پر مخ
دا سې د وینو ارزاني به نه وه

ښکاره خو دا سې، نور خدای پوهېږي؟
که دا ټول نه وی زندګي به نه وه

# غـزل

چـې وي ولاړ تېـره تېـره سـتنې بانـه ترمنځـه
دا نظرونـه خـو بـه خـود وي دا سـې مـړه ترمنځـه
نه اوس په مړو شمېر یو او نـه هم په ژوندیو حساب
هسـې کړېـږو د مرګـي او ژوندانـه ترمنځـه
راځـه تـه هغـه کلی پرېږده ، زه بـه دغـه پرېږدم
د بېلتانـه ښـامار بـه پـاتې شـي ویـده ترمنځـه
د ورځ او شپې بېلتون ته ګوره ، څومره درد ؤ په کې
چـې بېلېـدې سره نـو لمـر یـې ډوبېـده ترمنځـه
لکـه خـزان ونـې بربنـډې کـه سـپرلی یـې پټـې
دغـه تـو پیر دی ددې دور او هغـه ترمنځـه

لاندې ګهیځ فکر کې ډوب بره سپوږمۍ حېرانه
ستوري تمامه شپه اسمان کې څغلېده ترمنځه

# غزل

لکه تور ښامار خوړلي ورته ناست يو
پاړوګان مو رابللي ورته ناست يو

د مرګي خو څه نېټه مالومه نده
چې مونږ داسې لاس تړلي ورته ناست يو
ددې ګډو وډو لارو حال به راوړي
اوس به راشي وختي تللي ورته ناست يو
نور يې پل او لاره دواړه رانه ورک دي
يادوو د نيکو څلي ورته ناست يو

چېرې لاړې مسافره ياره ! څه شوې؟
راشه ! مونږه دې تړلي ور ته ناست يو

# غزل

څه چې ښکلا وه هغه ټوله الله ګل ته ورکړه
بیا یې د ګل د صفت ژبه تور بلبل ته ورکړه

دا هم یو راز د جنت او د دوزخ ترمنځه
چې غم یې یو ته او خوښي یې ټوله بل ته ورکړه
ګوره پښتونه د نیکه پوزه دې غوڅه کړله
چې د غېرت نښه دې بې پروا مُغُل ته ورکړه
څوک لېونو ته نه ورکئ څه او نه غواړي ترېنه
لاړې رسوا شوې چې او مه خوله دې پاګل ته
ورکړه

لړه را ووځه ! چې لړه بې خوبي خوره شي
بیا لیوني که مین بیا یو څنډ وربل ته ورکړه

# تصـور

نـه يـې لونـګ پرېښـوده، نـه يـې کشـمالي پـه لاره
دې لاروي ځـان پســې وشــيندل اغــزي پــه لاره

دا بــه راګرځــي ســبا ، دا بــه لــه لمنــې نيســي
دا خو (دستور) دی چې څوک ځي ببرته راځي په لاره
لېونی ! ولې بې وسي شوه، کـه مستي دې لاړه؟
اوس دې شرنګېږي نه په لېچو کې بنګړي پـه لاره
وړی وړی کړې د بېلتون غرونه چې باد يې يوسي
چــې اوړو نــه د (نواپــاس) او (ځخــوبي) پــه لاره

چــې پــه مـزل ګهيځـه سـتړی شـم لـه پښـو پرېـوځم
سـتا تصـور مـې بيـا لـه ځانـه سـره وړي پـه لاره

# د موروړ

لکه د تورې بوړې خړه غونډۍ
نيمه راړنګه نيمه ګرد ، د اسمان
لکه د ډنګو ګړنګونو څېړۍ
له خپله زوره پر ملا نيمه ماته
داسې زمونږه د زلميو مېندې
پر ملا ، راماتې شوې راونړېدې...

# مزدوران

مونږ یې د ډېرو ککریو په تاوان ونیسو
مشر یې بایلي له دښمنه چې میدان ونیسو

توري لمبې پرې ګرځېدلي، ځمکه سوې سوې
سوال د سپرلي وکړو، که مخه د خزان ونیسو
د تورو وریځو مخه اوړي د انسان له نیته
په ګلۍ واوړي چې په فال یې د باران ونیسو

د خان ماڼۍ ګهیځه ونړېده، عرض یې وکړ
قاضي ډاډ ورکړ چې په تور به یې مزدران ونیسو

# غـزل

دا پـه مـا څـه اثـر کېـده، تـا چـې مـې نـوم اخيســته
زړه مې بې واره درزېده، تا چې مې نوم اخيسته

هغوی به ویل چې دې ملنګ سره دې څه رشته ده؟
خلکو به یو بل کاته، تا چې مې نوم اخيسته
مـا خــو ليــده د غمــاز رنـګ لــه مخـه الـوتلـو
لکـه د پـانې رپېـده، تـا چـې مــې نــوم اخيســته
ستا په سرو شونډو چې راځې لفظونه وسوځېږي
دا بـه هـم دغسـې کېـده، تـا چـې مـې نـوم اخيسـته

د ملنګــانو کرامــت خــو بــه منــې ګـهيځــه!
غـزل دې ځنګـه لګېـده، تـا چـې مـې نـوم اخيسـته

# مننه

خدايه ! مننه، چې زمونږ په للمه ځمکه
څو ورځې وشوې چې باران وريږي
کليوال خلک د زړه سوي وړ دي
د کوکنار ګل ښکلا ترې ولوټل شوه
اوس يې غنم د باران ډېر تږي وو

***

خاونده دا ددې وروستۍ زمانې
د يوه داسې دور ورځې دي چې:
ستا څو سرکشه بندګانو زمونږ
پر سر د کبر بل اسمان جوړ کړی
او هره ورځ ترې پر مونږ
د اور غونډارې اورې ...

# تور ځنګل

ته اوس له مانه ډېره لرې، لرې لاړه شه ځه !
ما په دې تور ځنګل کې ځانله پرېږده
ته به پوهېږې د نړۍ ځنګل کې اور بل دی
هسې نه تا هم ددې اور د لمبو تاو ووهي
ته، رانه ځه !
په دې ځنګل کې ما یوازې پرېږده
ته، چې له ما سره یې، زه په یو بل اور سوځم
ځکه، چې ته زمونږ له نسله نه یې
مونږ ددې تور ځنګل بچي یو
او... ته ! !
د هسکو، هسکو اسمانو فرښته
ځه ! کنه، لاړه شه ته

ځنګل کې اوربل دی
او دا لوی پېغور دی ماته
چې زه او ته ددې ځنګل د ځناورو
په تماشه ولاړ یو
هسې نه، بیا زړه خبره در په یاد نه شي
ځکه،
ځمکه اوس هاغسې ده
تک تور ځنګل دی
او انسان لکه وحشي ځناور
دیو اوبل په وینو ژوند تېروي
څه کنه، څه ! د شنه اسمان فرښتې
تا نه به بیا ، نافرماني وشي
او بیا به وو ایې چې:
(( ما درته نه ویل، چې دوی به ځمکه په وینو
تکه سره کړي ))

# غزل

باد د غیرو د کوڅو راباندې لګي
لکه ښه سپېره، برو راباندې لګي

زمونږ هم د ګرېوانه تنهۍ ځنګېږي
رنګ چې ښه د لېونو راباندې لګي
هر سحر چې د خپل ښار کوڅو کې ګرځم
په کې بوی د سپېلنو راباندې لګي
لکه نن مې د ادم حجره کې شپه وي
نرۍ شور دې د بنګړو راباندې لګي

زه کهیځ به دې شپې توره سینه سپړم
که دې څوکې د کمڅو راباندې لګي

# ملنګان

وايې ما مينه کړې نوره هېڅ ګناه مې نشته
څوک لېونی راته شلېدلی ګرېوان خوب کې راځي

د زړه پرهره درد ونه کړې چې راويښ مې نه کړې
نن مې ياد کړی خامخا به جانان خوب کې راځي

په کومه ورځ چې يې د ښار کوڅو کې وګورمه
په هغه شپه راته بيا ټول ملنګان خوب کې راځي

# جومات او بتخانه

دا به دوزخ ته ځي خو ته به شېخه چیرته وایه !
ته په جومات کې زوړ شوې دا په بت خانه کې زوړ شو

په تش ورتلو به دې نوم وشي خو ثواب دې نه شي
که داسې وي نو بیا خو لات هم په کعبه کې زوړ شو

دې ستا غمونو یې د سر وېښتو کې سپین پېدا کړه
جانانه ستا ګهیځ خو ستا په یارانه کې زوړ شو

# د غرو لمنې

دلته چې ولوېدې نو ولوېدلې
دلته څوک لاس د سړي نه رانیسي
زموږ د غرونو خو لمنې لوی دي
دوی پکې هسې سپرلي نه رانیسي

# نوم

چې یې کاته او لوسته دواړه ګران وي
دا لړ ګردونه پرې پرېوتي ښه دي
چې په مانا یې سړی نه پوهېږي
د نوم مې څو ټکي الوتي ښه دي

# څلوريزه

زه پـــرې خـــواري كـــوم خـــو نـــه اوړي
دا عادتونـــــه بـــــه پـــــه څـــــه اوړي؟
د لېـــونى جينـــــى خويونـــــه كـــــوي
ســـــپوږمى روانـــــه ده پـــــه غـــــره اوړي

# سپرلى

څنګه كې دې ګل ښه دى په دښتو پسرلى ښه دى
يار دې چې دا دى څنګه همدا سې لېونى ښه دى
دا د پخوانـــو خلكـــو خبـــرې مرغلـــرې دي
څه ښه يې ويلي دي، يو خداى ښه دى يو ځاى ښه دى

# درې ټکي

ستا لـه غېږې چې لوېدلی يمـه خـوار يـم
لا روان يـــم لا د ورک منـــزل پــــه لار يـــم
چـــې دې غېـــږ کـــې وم ســـپېڅلی جنتـــي وم
چـــې پـــه ځمکـــه مـــې پـــل ايښـــی ګناهګـــار يـــم
(م) مـــې مينـــه (و) وجـــود او (ر) مـــې روح دی
ســـتا د نـــوم لـــه دغـــه درېيـــو ټکـــو ځـــار يـــم

# لېونۍ

دې لېـــونۍ د شـــهيد يـــار پـــه مـــزار څـــه کرلـــي
ورتـــه پـــه لپـــو کـــې اوبـــه هـــره غرمـــه خېـــژوي

# تړاو

چې پـه وره کالـه مې راشي
کـه ډېر بـد وي ښـه مې راشي
چې تـه نـه يې زړه مې نـه وي
چې تـه راشې زړه مې راشي

# مرګ

زمونږ ښېرې او دعاګانې په چا نه لګېږي
په تا چې ولګېدې چا به پرې امين کړی وي
زما په مرګ کې د جانان او رقيب دواړو لاس دی
هغه به دروغ ويلې وي ده به پرې يقين کړی وي

## څلوریزه

پرون چې لېونۍ ټال خلاصوو غلي یې وویل
تر بل اختره پورې دې چیناره په خدای سپارم
په نیمه لار مې تل لکه ماشوم پرېږدې په چغو
یو ورځ دې هم و نه ویل چې دې یاره په خدای سپارم

## څلوریزه

مخ را سره شي دښمن له جنګه بېرته وتښتي
وو بېربېږي تش د ډول له ډنګه بېرته وتښتي
خیر د دیدن راوړي یار سیلۍ غوندې په منډه وي
بس لکه ماشوم چې له ملنګه بېرته وتښتي

# مــزار

## د ازمون صبېب د يوه غزل پر پله

چې ځي ځـان سـره وايـه استـغفار پـه دغـه لاره
تېـر شـوي ډېـر جانانـه ګناهګـار پـه دغـه لاره
په ښه بد چې پوه شوی يم د توري شپې مزل دی
را و نـه خـوت پـر مـا لمـر د سـهار پـه دغـه لاره
لـه لـرې لاس اوچت کـه زړه کـې ووايـه جانانـه !
چـې دی مـې د ګهـيځ اشـنا مـزار پـه دغـه لاره

# مـلنګ

اوس لـه زيارتـه د شـپې بـاد د ربـاب غـږ نـه راوړي
کـوم زورور غــم بـه وي وړي لــه ملنګـه مســتي

# ګورګورې

وخت به راشي د سپين غره سيل ته به لاړ شو
صبر وکړه لا ګورګورې پخې نه دي
يوه نيمه پکې شي د کاڼي کربښه
که نه دومره دې خبرې پخې نه دي

# يادګار

لا پرې اوس هم ستا د ګوتو يادګار شته دی
لا لوېدلی نه دی ياره چينار شته دی
وخت ناوخت خو ورته لاس په دعا جګ کړم
دا هم ښه ده چې دې ګرانه مزار شته دی

# قاتل

په وينو سور و ما ويل بيا يې کوم غريب وژلی
موسکی موسکی شو، ويلې نه ما ترې توبه ايستلې
چې ترې ترې وم ساقي نو وار دې نه راکاوه
اوس راته مه نيسه پياله ما ترې توبه ايستلې

# د جګړې شپه

لکه په غره کې تنکۍ څانګې د نښترو پاتې
داسې سرونه له تنو شه د لوګرو پاتې
بېګا له ډزو وروسته څه نرۍ ژړا راتلله
وه پورې ډاګ کې څوک ماشوم له مسافرو پاتې

# ګیله

زه دومره ستړی یاره نه وم خو تا پرېښودمه
د ژوند په لار درسره ښه وم خو تا پرېښودمه
ګهیځ، ګهیځ ناري دې نه دي کړي دروغ مه وایه
زه درته ویښ تر لمر خاته وم خو تا پرېښودمه

# د ېره

ټول عمر رانه ورک وي یوې شپې ته خپله راشي
له یاره چې خپه شي زړه سینې ته خپله راشي
ستار منګی راواخلئ یو څو سوې ټپې وکړئ
د کلي مست زلمي به بیا د ېرې ته خپله راشي
دا تور ټوپک که مات او له بدرنګ ښکاري که خلاص شو
نو تربې، تربې زرکې به چینې ته خپله راشي

## لاره

اغزي اغزي ده، بيديا ده لاره
په شاړو ځمکو، مو بيا ده لاره
چي راخطا شي، نو ښار ته راشي
له لېونو نه، خطا ده لاره

## پوښتنه

څه وکړمه څنګه ياره! درشمه؟
رو ښيه چي نور له ښاره درشمه
مانه خو دي پل بادونو وړی دی
تا پسي په کومه لاره درشمه؟

## ثلوریزه

زړه د ننه دی په زړه دې څه باور دی
چې د غوښې که د تورو کانو غر دې
پر سر واورې په لمنو کې ګلونه
تورو غرو باندې د پاک الله نظر دی

## ثلوریزه

کله سېلابونه، کله نه باور پرې نشته دی
ژوند لکه زمونږ د رود اوبه، باور پرې نشته دی
ښه یې ټوله شپه ګهیځه ښکلي مخ ته وګوره
بیا سپینه سپوږمۍ پر بام خاته، باور پرې نشته دی

# څلوريزه

هر يو غريې د اسمان لمنې نيسي
خو زمري ترينه جنګونو تري تم کړه
چې ناره به يې د غره له سره وکړه
هغه خلک يې په دې غرونو کې کم کړه

# وطن

د خوشال که هر قدم په خلکو زباد دی
ایمل خان لا هم په زړونو کې دی یاد دی
د وطن هره دره مې شېريني ده
د وطن په هر يو غره کې مې فرهاد دی

## سره غرمه

تا سره به د ېنه وروسته ستا په زړه کې څوک اوسي؟
هره خوا چوپتیا ، چوپتیا ځانله غره کې څوک اوسي
یـا د چا ملنـګ بـه وي؟ یـا څـوک لېـونی د چـا ؟
نور نو په دې سره غرمه د کلي وره کې څوک اوسي

## نصیب

داســې وخــت داســې شــېبې، یــوه شــېبه وي
چـــې زه هـــم یمـــه او زړه مـــې راســـره وي
پـــه رڼـــا بانـــدې رانغلـــې لېونیـــه
چـې راځـې راځـې، نـو تکـه تـوره شـپه وي

# فرهاد ته

د غزل چینې دې دومره خواږه راکړه
ګناهګار شومه زمزم دې رانه هېر که
وخته ! ستا د منډو پل مې لاندې نه که
خپل میده، میده قدم دې رانه هېر که

# سکروټه

پاس آسمان ته له ختلو لمبو بنه ده
چې یوه سکروټه پاتې شي ایرو کې
د سرو انجونو له ګودره په ځنګ لاړې

# کونړیــــه ! زور دې نشـــــته پـــه ځپـــو کـــې

# ژوند

په دې کوڅه کې مې ړومبی ړومبی قدم ایښی دی
اوس یې د یوال نیسم روان یمه چې ونه لوېږم

❁❁

لویــه دښـــته ده کــه پښـــې پکـــې وانخلـــي
پـــه دې ســـتړي لاروي خـــو بـــه ماښـــام شـــي

❁❁

څـه، څـه ! ستـا د لاسنيوي اړتيـا مـې نشتـه
خلـک غرونـو بانـدې اوړي چـې ناکـام شـي

# د انقلاب شاعري

ټوله انتخاب شاعري کمه ده
وي به یو کتاب شاعري کمه ده
هره شېبه پېښې خو تا نه لېدې
ستا د انقلاب شاعري کمه ده

# پوښتنه

زه چې دا هر میدان بایلم په دې پوهېږې، ولې؟
راسره ستا د دعاګانو تورې، زغرې نشته
مونږه اوس ورک یو ، مونږه هیڅ رو او ګودر نلرو
مونږ سره اوس د باباګانو تورې، زغرې نشته

# څلوريزه

بيا دې سرې جامې په غاړه کړي دي
دا دې څه لمبې په غاړه کړي دي
ته به د دوزخ په لاره تللې يې
مونږه يې دمې په غاړه کړې دي

❀❀❀

چې دې دانه، دانه شيندلم خدايه !
بيا به دې نه راټوکولم خدايه !
اوس په دې سره ځمکه لمبې وهمه
چرته لاسونه، چرته پښې وهمه

# مشوره

د لېونو هغه داب پاتې نه دی
ګرېوان راټول که، ملنګي شروع که
رباب پیدا که نور یې خوند و نه که
پترى کچکول که، ملنګي شروع که

# درد

څرېکې یې ډېرې وي، سندره یې یوه نیمه شي
زړګی مې درد کوي له تا پسې چې شپه نیمه شي
وه زوروره باده ! دغه یې وروستۍ نښه ده
خاورې یې مه بادوه، خیر دی که جنډه نیمه شي

# ملنګ جان ته

خدايزده، چرته به روان ؤ، خو دې کلي ته راستون شو
يو ملنګ ؤ، شاه جهان ؤ، ديره کور کې د پښتون شو

وې خبـرې يـې سنـدرې
د چينـــو هســـې ژورې
د خپل تن جامې يې زغرې
دا قـامــونه يې لښـکرې
په قامونو باندې ګران ؤ، لا پرې ګران دا افلاطون شـــو

دا دنګ غرونه يې وو ورونه
دا درې يې ســکه خـوېنـدې
چې به چا بد کړل نيـتونه
بوروڵـې يې پرې ميـندې
دا وطن يې روح اوځان ؤ، پکې خاورې يې ژوندون
شـــو

هغــه زړه بـانـدې زخــمـي ؤ
رغېــده نــه، کــړېــده بــه
يو وجود چې په منځ دوه شي
نـو ضــرور ده څــورېـده بــه
دې بېلتون بېلتون باندې پرېشان ؤ، مړ له غمه د بېلتون شو

مينــه داســې وي ګهــيځـه !
چې ملنګ په کې ملنــګ شو
اوس په زړونــو کې اوسېــږي
دا په خلکــو يــې قلنګ شــو
لاړه خيرې يې ګرېوان ؤ، ديار مينه کې مجنـون شــو

# مخه ښه

په مخه ښه کې دې وروستۍ خبره دا وکړله
چې څه په مخه دې ښه، ژوند دې ډېر شه
تا ته به ښه وه تا دعا وکړله
خو دې د مرګ ناره په ما وکړله
اوس ورخطا یم که قبوله شي، نو ! !
راته را پېښ کړاو به لا اوږد شي